# شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**رسول الله صلی الله علیه وسلم د نېک چلنده آمر په اړه فرمایلي دي:**

**ژباړه:** له حضرت عائیشې رضي الله تعالی عنها څخه روایت دئ، چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په خپل کورکي واورېدل، چې ویل ئې «ای الله! څوک چې زما د امت د دیني او دنیوي معاملاتو څخه د یوې معاملې ذمه دار وګرځي او بیا هغوی په ستونزه کي اچوي؛ نو ته هم دی په ستونزه کي واچوه او څوک، چې زما د امت د یوه کار ذمه دار وګرځي او له خلکو سره په نرمښت چلند کوي؛ نو ته هم له دغه شخص سره نرمي وکړه. [رواه مسلم باب فضیله الامیر (ص: ۱۲۲ ج: ۲)]

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


شنبه| دذولحجة الحرم ۱ - ۱٤٤٥ل س/ د غبرګولی ۱۹ - ۱٤۰۳ل ل/ د جون ۸ - ۲۰۲٤ز/دریم کال / ۱۰۲ ګڼه/ ٤ مخیزه




## سر مقاله

### معافیت مالیاتی و تأثیرات آن بر رونق تجارت داخلی

در جهان امروزی، منابع درآمد دولت ها و کشور های جهان را سرمایه گذاران داخلی و خارجی در عرصه های مختلف اقتصادی برای مؤلدیت فعالیت های تولیدی و تجارتی تشکیل میدهد، هر کشوری که معافیت مالیاتی را برای حمایت متشبثین خصوصی و سرمایه گذاران داخلی در راستای سیاست های حمایوی تاجران داخلی تصمیم می گیرند، در حقیقت تأثیرات مثبت را برای رونق تجارت داخلی قلمداد می نمایند. معافیت های مالیاتی قدرت و توانمندی اقتصادی را برای تاجران داخلی به حیث یک فرصت مناسب پیش آمده از جانب حکومت به نمایش می گذارد، این فرصت ظرفیت های در آمدی را برای متشبثین خصوصی شناسایی نموده، به سمت فعالیت های اقتصادی مؤثر و مفید به عنوان مشوق اقتصادی برای تشویق فعالیت های حمایتی و کاهش وابستگی های خارجی تلقی میشود. معافیت مالیاتی، سبب رشد اقتصادی در جامعه شده و زمینه ای اعتماد سازی را میان دولت و ملت در مقابل معافیت های مالیاتی بوجود آورده، فعالیت های تجارتی و اقتصادی افزایش می یابد. همین اکنون نزدیک به نیمی از تولیدات ناخالص داخلی کشور به شکل وسیع آن در اختیار نهاد های اقتصادی خصوصی و نیمه خصوصی می باشند و عملکرد شان طیف وسیع جامعه را تشکیل می دهد. باید توجه داشت، معافیت مالیاتی یک ابزار بزرگ محور حکومت است برای تطمیع، یا حمایت تجارت داخلی، مراکز تجارتی، تقویت تشبثات خصوصی، افراد حقیقی و یا حقوقی، افزایش تولیدات داخلی، نوآوری ابتکار تولید، خدمات، آموزش، ایجاد فرصت های شغلی، نظم دهی حساب داری، سیستم توزیع عادلانه عاید، سیستم فروش، سیستم انبارداری، سیستم تولید، سیستم کنترول و کیفیت برای حمایت از درآمد ها و دارایی ها، به طور مؤقت یا دائمی از پرداخت مالیات به منظور حمایت از متشبثین خصوصی میباشد. تأثیرات مالیات بر درآمد در واقع شامل مالیات اشخاص حقوقی، مالیات بر در آمد ها، مالیات بر ثروت، مالیات بر تجارت داخلی و دکاکین، کسبه کاران، واردات و مالیات کالاها و خدمات می باشد، وضع این مالیات می تواند در آمد کسبه کاران و تاجران را کاهش، عواید دولت و درآمد ملی را افزایش دهد، اما معافیت مالیاتی میتواند توان کسبه کاران و تجارت پیشه گان را در عرصه ای فعالیت های تجارتی داخلی و تجارت بین المللی افزایش دهد. یافته های ما نشان می دهد، فرمان تازهٔ امیرالمؤمنین (حفظ الله تعالی) در حصه ای معافیت مالیاتی از جمله موارد هستند که سبب رشد اقتصادی جامعه شده، اقشار مختلف جامعه میتوانند فعالیت های تولیدی، تجارتی و اقتصادی شان را افزایش دهند. همچنین معافیت مالیاتی سبب ایجاد اشتغال زایی، ایجاد فرصت های کاری و اعتماد سازی میان نظام سیاسی کشور و ملت خواهند شد.

با احترام

اداره

## د اصنافو (دوکاندارانو او کسبګرو) د ثابتي مالیې د معافیت او تخفیف د اعلان په تړاو غونډه وسوه



د اصنافو (دوکاندارانو او کسګرو) د ثابتي مالیې د معافیت او تخفیف په تړاو د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز (GMIC) کي غونډه وسوه. په دې غونډه کي د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف، د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي، د لوړو زده کړو وزیر شیخ مولوي ندا محمد ندیم، د پوهني وزیر مولوي حبیب الله آغا، د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور، د فرمانونو او احکامو د څارني او تعقیب لوی رئیس مولوي شمس الدین شریعتي او د بېلابېلو اصنافو استازو ګډون کړی وو. د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند د دغي غونډې په پرانیستې ویناکي وویل، چې د افغانستان اسلامي امارت د خلکو له پاره د اسانتیاوو برابرولو ته ژمن دئ او تل ئې په دې برخه کي هڅي کړي دي. اسلامي امارت هغه څه چې وایي، عمل پرې کوي، چې د عملي سوو ژمنو له ډلې ئې دغه د اصنافو د ثابتي مالیې معافیت او تخفیف یوه ښه بېلګه ده. هغه زیاته کړه، د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د ځانګړي حکم له مخي، د یو شمېر اصنافو مالیه په بشپړه توګه معاف سوه. د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د دغي غونډې د جوړولو له امله د مالیې وزارت له رهبري پلاوي څخه مننه وکړه او زیاته ئې کړه، چې د لوړو مالیاتو له کبله د اصنافو د پرله پسې شکایتونو له پاره د افغانستان اسلامي امارت زعیم اداري کمېسیون ته دنده سپارلې وه، چې اصنافو ته د لا اسانتیا رامنځته کولو په موخه یوه طرحه ترتیب کړي، چې دغه طرحه ترتیب او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له لوري تائید سوه. د امیرالمؤمنین (حفظه الله) د ځانګړي حکم پر بنسټ، د هغو اصنافو مالیه، چې په یوه کال کي ئې خرڅلاو تر (دوو میلیونو ) پوري وي، معاف سوه او تر دوو میلیونو زیات خرڅلاو بانډي (۰،۳) سلنه مالیه وضعه سوه؛ په داسي حال کي چې تر دې مخکې په (۱۵۰) زره کلنیو فروشاتو بانډي مالیه معاف او تر دې پورته فروشاتو بانډي (۰،۵) سلنه مالیه وضعه سوې وه. د صنعت او سوداګرۍ وزیر الحاج نورالدین عزیزي وویل، چې دا لومړی ځل نه دئ، چې د افغانستان اسلامي امارت ورته اسانتیاوي برابروي؛ بلکې څو څو ځله ئې خصوصي سکټور ته د همکارۍ لاس ورکړی، نن هم موږ د اصنافو له پاره د یوې بلې اسانتیا رامنځته کولو په برخه کي د افغانستان اسلامي امارت د زعیم د شفقت شاهدان یو، نوموړي له اصنافو او خصوصي سکټور څخه هم غوښتنه وکړه، چې له اسلامي امارت څخه خپلي بشپړي همکارۍ ونه سپموي. د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف په دې اړه وویل، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) له لوري د اصنافو د ثابتي مالیې معافیت او تخفیف د نوموړي د شفقت او مهربانۍ ښکارندویي کوي. هغه زیاته کړه، اوسمهال د هیواد بودیجه یوازي له کورنیو سرچینو څخه برابرېږي او هیڅ ډول بهرنۍ مرسته نه ده ور سره مل. د امارت د ټولو کارکوونکو معاشونه ستاسو له همدغي مالیې څخه ورکول کېږي او ترځنګ ئې کونډو، یتیمانو او طبیعي پېښو ته رسېدنه هم د ملي بودیجې له


پاته برخه په دوهم مخ کي...


## د مالیې وزیر د چین هیواد له سفیر سره وکتل




د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند په خپل کاري دفتر کي د چین هیواد سفیر (ژاو شینګ) ته ښه راغلاست ووایه او دواړو لوریو په بېلابېلو موضوعاتو بحث او خبري وکړې. په پیل کي الحاج ملا محمد ناصر اخوند د چین سفیر او مل پلاوي راتګ د دواړو هیوادونو د اړیکو د لا ټینګښت لامل وباله او ترځنګ ئې په هیواد کي د طبیعي پېښو په برخه کي د چین هیواد له بشري مرستو څخه هم مننه وکړه. د چین سفیر هم په خپل وار سره د مالیې وزارت له همکاریو او مثبت تعامل له امله مننه وکړه او په افغانستان کي ئې د څلورو مهمو رغنیزو او ټولګټو پروژو د پیل خبر ورکړ. ښاغلي ژاو شینګ وویل، چي په افغانستان کي د یوه معیاري روغتون او د سړو خونو د جوړولو پروژې پیلوي او په دې برخه کي د مالیې وزارت له لوري د لازمو اسانتیاوو د برابرولو غوښتونکی سو. د مالیې وزیر د چین د سفیر ښاغلي ژاو شینګ غوښتنو ته لبیک ووایه او ژمنه ئې وکړه، چې د دغو پروژو د پلي کولو له پاره به د مالیې وزارت له اړخه ټول قانوني امکانات برابر کړي. د ناستي په پای کي دواړو لوریو ټینګار وکړ، چې په راتلونکي کي به هم د مثبتو تعاملاتو او لیدنو لړۍ دوام ولري؛ تر څو د دوه اړخیزو همکاریو لا پراختیا ته ښه زمینه برابره سي.

## د ډنډ پټان په ګمرک کي د (۸،۳) میلیونو افغانیو په ارزښت د رغنیزو چارو پروژه پیل سوه



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، پکتیا ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کي، د یاد ولایت د ډنډپټان په ګمرک کي د (۸،۳) میلیونه افغانیو په ارزښت د جومات جوړولو پروژې پرانیستنه وکړه. یاد جومات په معیاري بڼه د ټولو اړینو امکاناتو په درلودلو سره، په دوو پوړونو کي جوړېږي او په یوه وخت کي به د (۵۲۰) لمونځ کوونکو ظرفیت ولري. د دغي پروژې لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او د پروژې چاري هم د یوه افغاني شرکت له لوري مخته وړل کېږي، چې په (۸) میاشتو کي به بشپړي سي.




د ګمرکونو لوی رئیس د پکتیا له والي سره پر ګمرکي مسایلو خبري وکړې


م ۲





د ۱۴۰۳ مالي کال عوایدي موخي ته د رسېدلو پر څرنګوالي بحث وسو


م ۲




د عوایدو لوی ریاست رهبرۍ د هیواد د (۳۴) ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره انلاین ناسته وکړه


م ۲

د تورخم په ګمرک کي د وارداتي اسلحو له قاچاق څخه مخنیوی وسو



م ۲





په افغانستان کي مالي بازارونو ته اړتیا او په اقتصادي وده کي ئې رول


م ۳

ازبکستان او د افغان – ټرانس سوداګرۍ نوي واقعیتونه


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه




# د گمرکونو لوی رئیس د پکتیا له والي سره پر گمرکي مسایلو خبري وکړې




د مالیې وزارت د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، د یو پلاوي په مشرۍ پکتیا ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترخ کې، د دغه ولایت له والي الحاج ملا مهرالله حماد سره وکتل او په گمرکي مسایلو ئې خبري وکړې. په دغه کتنه کې، چې یو شمېر نورو ولایتي مسؤلینو هم حضور درلود، دواړو لوریو د پکتیا گمرک په سته ستونزو او حل لارو، د گمرکي فعالیتونو پر لا ښه والي، سوداگرو ته د لا اسانتیاوو په رامنځته کولو او د یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبري وکړې. د پکتیا والي تللي پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ، د یادو گمرکي موضوعاتو په برخه کې د هر راز همکاریو ډاډ ورکړ. د یادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی رئیس، په دې سفر کې د پکتیا گمرک د چارو د ارزوني تر څنګ، د یاد ولایت له یو شمېر سوداگرو سره هم وکتل او د دوی ستونزي ئې له نږدې واورېدلې او د ژر تر ژره حلولو ډاډ ئې ورکړ.

# د عوایدو لوی ریاست رهبرۍ د هیواد د (۳۴) ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره انلاین ناسته وکړه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ او د یاد ریاست د یو شمېر مسؤلینو په گډون، د هیواد د (۳۴) ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره پر لیکه، ویډیویي ناسته وسوه په دغه ناسته کې د عوایدو لوی رئیس د مستوفیتونو او عوایدو لوی ریاست ترمنځ پر لا ښې همغږۍ ټینگار وکړ او زیاته ئې کړه، چې ټول مسؤلین باید خپل مسؤلیتونه په احسنه توگه ترسره کړي؛ ترڅو ملي عواید په شفاف



ډول راټول سي او ملي بودیجه ورسره لا پیاوړې سي. په دغه غونډه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د تازه حکم، چې پر بنسټ ئې، اصنافو (دوکاندارانو او کسبگرو) ته د ثابتي مالیې په برخه کې د پام وړ معافیت او تخفیف ورکول سوی؛ د ښه تطبیق پر لارو چارو هم هر اړخیز بحث وسو او په پای کې د چارو د لا ښه والي په موخه د مستوفیتونو د مسؤلینو وړاندیزونه هم واروېدل سول.

## د هیواد د (۳۴) ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره انلاین ناسته وسوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس مولوي حافظ شاه حسین حسیني په مشرۍ جوړه سوې غونډه کې، چې د یاد ریاست مرستیالانو هم گډون درلود؛ د عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله) له لوري اصنافو ته د رامنځته سوي مالیاتي معافیت او تخفیف د ښه تطبیق او د (۱۴۰۳) مالي کال عوایدي هدف ته رسېدلو پر څرنگوالي بحثونه وسول. د عوایدو لوی رئیس ښاغلي مولوي حافظ شاه حسین حسیني وویل، چې ټول کارکوونکي باید په خپلو کارونو کې د پوره اخلاص څخه کار واخلي او هر کله، چې په کارونو کې اخلاص وي؛ نو پرته له



شکه پرمختگونه او لاسته راوړني به مو په برخه کېږي. ښاغلي حسیني ټینگار وکړ، چې کارکوونکي باید د پوره اطاعت په فضا کي چاري مخته یوسي او خپلي گټوري او نېکي مشورې له یو بل سره شریکي کړي؛ تر څو گډ هدف، چې ولس او نظام ته خدمت کول دي، هغه په ښه ډول ترلاسه سي. په دغه غونډه کې د اصنافو (کسبگرو او دوکاندارنو) د نوي مالیاتي معافیت او تخفیف په تړاو او همدارنگه د روان کال د عوایدي هدف د بشپړولو په موخه، له اړوندو مسؤلینوسره اړیني لارښووني او سپارښتني شریکي سوې.

... د پاته برخي دوام : د ثابتي مالیې د معافیت او تخفیف د اعلان

لاري ترسره کېږي، چې ستاسي له مالیاتو څخه ترلاسه کېږي.

د لوړو زده کړو وزیر شیخ ندا محمد ندیم وویل، چې دې ملت له جهاد څخه ملاتړ کړی او د ډېرو اسانتیاوو د برابرولو مستحق دئ. د اسلامي امارت د مالیاتو د معافیت له پالیسۍ څخه موخه د خلکو ملاتړ دئ.

د افغانستان د کسبگرو او دوکاندارانو د خوني لوی رئیس الحاج شېرین آغا سخي د اصنافو په استازولۍ د افغانستان اسلامي امارت له زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) او په ځانگړي ډول د مالیې وزارت څخه د اسانتیا رامنځته کولو له کبله مننه وکړه، چې خصوصي سکتور د اسلامي امارت له دې گام څخه خوښ دئ او موږ خپله مالیه په احسنه توگه اداکوو.

د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور وویل، چې د خوشحالۍ ځای دئ، چې د عدل او انصاف په موخه یو بل گام هم پورته سو، اسلامي امارت د بیا واکمنۍ له پیل څخه تر نن ورځي پوري مظلومو خلکو ته رسېدنه د خپلو کارونو لومړیتوب گڼلی او هڅه ئې کړې، چې د ولس ستونزو ته په سمه توگه رسېدنه وکړي.

# د مالیاتي شخړو د حل مجلس ۱۱۳ مالیاتي مسایلو ته رسېدنه کړې ده

د مالیې وزارت د مالیاتي شخړو د حل مجلس (بورډ) په (۱۴۰۲هـ.ل) کال کې د تقنیني اسنادو په رڼا کې د مالیه ور کوونکو (۱۱۳) مالیاتي موضوعاتو او قضیو ته رسېدنه کړې ده. دغه مجلس د مالیاتي عدالت د رامنځته کولو، د مالیه ور کوونکو د رضایت ترلاسه کولو، د دوی د اطاعت پزیرۍ کچې د لوړولو، د مالیاتي ادارو او مالیه ور کوونکو ترمنځ د اعتماد زیاتولو او د خصوصي سکتور د ملاتړ او پانگوني د جلب په موخه فعالیت کوي. تر دې مهاله د دغه مجلس له کړنو او پرېکړو څخه (۹۹)سلنه مالیه ور کوونکو رضایت ښودلی، چې د مجلس د پرېکړو پر بنسټ د عوایدو له تېښتي څخه مخنیوی سوی او زیاته اندازه عواید ملي خزانې ته سپارل سوي دي. دغه مجلس ته د راغلیو مسایلو زیاته برخه د اصنافو، شرکتونو او جایدادونو اړوند ده. د مالیاتي شخړو د حل مجلس همدا راز مالیاتي شخړو ته د ښې رسېدني په موخه یوه جامع کړنلاره جوړه کړې ده، چې په رڼا کې ئې مالیاتي شخړي حل کېږي او معترضو مالیه ورکوونکو ته بشپړ قناعت ورکول کېږي. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د مالیاتي شخړو د حل مجلس د (پنځو) مسلکي غړو په لرلو سره، د ټولو هغو مالیه ورکوونکو شکایتونو او غوښتنو ته رسېدنه کوي، چې له تثبیت سوي مالیې څخه راضي نه وي.

# د تورخم په گمرک کي د وارداتي اسلحو له قاچاق څخه مخنیوی وسو



د تورخم گمرك د ټرانزیټ د تشریح مدیریت ځیرکو کارکوونکو په یوې وارداتي سوداگریزه محموله کي (۱٦) قبضې تفنچې (۳۲) شاجورونه او (۳۱۵) فایره مرمۍ، چې د محمولې په سیټ کي په ماهرانه ډول ځای پر ځای سوي ول کشف او ونیول. یاد مهمات، چې په قاچاقي توگه له گاونډي هیواد پاکستان څخه افغانستان ته راوړل کېدل په تړاو ئې یو تورن کس هم نیول سوی او د نورو څېړنو په موخه اړوندو ارگانونو ته سپارل سوی دئ. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د گمرکونو ویښ کارکوونکي شپه او ورځ کار کوي او د هر ډول توکو، چې په قاچاقي او غیر قانوني توگه وړل او را وړل کېږي مخه نیسي.


د مـالیـې وزارت
د گـمرکـونو او عـوایدو معینـیت
د عـوایدو لـوی ریاست

Afghanistan Revenue Department
ARD

## دریمه برخه — مالیه پېژندنه

### پـر عایداتـو بانـدي

#### د حقیقي شخص پر کلنیو عایداتو باندي د مالیې سنجش

**مثـال:** ( زبیـر رهنمایي معامـلات ) چي یو حقیقي شـخص دئ، د (1400) مـالي کال په جریان کـي ئې د معاملـو د اجرأ له درکـه (1،700،000) افغانۍ ناخالص عواید لاسـته راوړي دي، پر عایداتـو بانـدي د مالیاتـو قانـون د څلورمـي مـادې د (3) فقـرې د حکـم مطابـق د اسـنادو پـر بنسـټ د لگښـتونو لـه مجرایـي ورسـته پـر عایداتـو بانـدي ئـې مالیـه پـه لانـدي ډول سنجش کېږي.

**تبصره:**

د زبیـر رهنمایـي معامـلات مکلـف دي ،چـي د ( 1400) کال پـه پـای کـي د حقیقـي اشـخاصو د مالیـې د نـورم مطابـق پـه جـدول کـي لـه ذکـر سـوي معافیـت څخـه وروسـته (146،800)افغانۍ پر عایداتو باندي مالیه ورکړي.

**یادونـه:** د ټولـو حقیقـي اشـخاصو مالیـه پـه پورتـه ډول سـنجول کېږي، هر حقیقي شـخص مختلـف لگښـتونه لـري، چـي د اسـنادو پـر بنسـټ ئـې مجرایـي ورکـول کېږي او د قانـوني لگښـتونو تـر مجرایـي وروسـته لـه خالـصي گټـي څخـه ئـې پـر عایداتـو مالیـه اخیسـتل کېږي. هـر کلـه چـي حقیقـي شـخص پـه یـوه ربعـه کـي (750،000) افغانـۍ او یـا لـه هغـه څخـه ډېـر عوایـد پـه لاس راوړي؛ نـو د (4٪) انتفاعـي مالیـې تابع کېږي، چي د کال په پای کي ئې د مصرف په ډول مجرایي ورکول کېږي.

| د معاملو د اجرأ له درکه کلني ناخالص عواید | |
|---|---|
| د جایدادونو د کرایې د معاملې د عقد له درکه | 1,100,000 |
| د جایدادونو د خرڅلاو د معاملې د عقد له درکه | 600,000 |
| د کلني ناخالصو عوایدو مجموعه | 1,700,000 |
| د مثبته اسنادو پر بنسټ د مجرایي وړ کلني لگښتونه | |
| ورکول سوې کرایه | 120,000 |
| ورکول سوی معاش | 120,000 |
| د قرطاسیې لگښتونه | 30,000 |
| نور لگښتونه | 30,000 |
| د مجرایي وړ لگښتونو مجموعه | 300,000 افغانۍ |

د پورته تشریح مطابق زبیر رهنمایي معاملاتو د 1400 کال په جریان کي 1,700,000 افغانۍ ناخالص عواید په لاس راوړي دي، ددې له پاره چي د هغه خالص عواید معلوم کړو، د ناخالصو عوایدو څخه ئې لگښتونه منفي کوو.
1,700,000-300,000=1,400,000

| په مالي کال کي د مالیې تابع عواید: له | په مالي کال کي د مالیې تابع عواید: تر | د مالیې تابع مبلغ | د مالیې نورم | د مالیې مبلغ |
|---|---|---|---|---|
| 0 | 60,000 | 60,000 | 0% | 0 |
| 60,001 | 150,000 | 90,000 | 2% | 1,800 |
| 150,001 | 1,200,000 | 1,050,000 | پر (1800) ثابتو افغانیو سربېره 10% | 106,800 |
| له 1,200,000 افغانیو څخه پورته | | 200,000 | پر 106,800 ثابتو افغانیو سربېره 20% | 146,800 |
| د تادیې وړ مالیې مجموعه | | 146,800 افغانۍ | | |

MofAfghanistan mof.gov.af

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# په افغانستان کي مالي بازارونو ته اړتيا او په اقتصادي وده کي ئې رول!

استاد عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس

**دوهمه برخه**

مـالي بـازار عبـارت لـه هغـه ځـای څخـه دئ، چـي هلتـه اقتصـادي واحدونـه د اقتصـادي ارزښـتونو پـه پـار د بيـه لرونكـو پانـو تبادلـه تـر سره كـوي.

مـالي ماركيټونـه د هيـواد د مـالي سيسـتم، اقتصـادي تيـكاو او رونـق لـه پـاره نهايـت اړيـن دي، پانگـه والـو تـه د دې زمينـه سـازي كـوي، چـي پـه خپلـو اضـافي پيسـو مـالي اسناد وپېري او پـه مـالي بازارونـو كـي ئـې پـه مناسـبه بيـه وپلـوري، چـي پـه دې اسـاس پانگـه لـه مـازاد پانگـه لرونكـو كسـانو څخـه هغـو كسـانو تـه پـه اسـانۍ سره انتقـال مومـي، چـي اړتيـا ورتـه ولـري، پانگونـه د هيوادونـو د اقتصـادي ودي د رامنځتـه كولـو لـه پـاره مهـم ركـن دئ. مـالي بازارونـه د پانگـوني بهتريـن فرصتونـه او سـهولتونه رامنځتـه كـوي، د پانگـوني اهميـت پـه اقتصـادي وده كـي انـكار نـه منونكـی واقعيـت دئ.

مـالي بازارونـه او اقتصـادي وده دوه مهـم او يـو پـه بـل پـوري تـړلي موضوعـات دي، مـالي بازارونـه د اقتصـادي ودي مهـم شـاخص دئ، همـدا راز مـالي بازارونـه د پانگـه اچوونكـو او توليـدي كارخونـو تـر منـځ د ارتبـاط اسـاسي وسـيله ده، چـي پـه مـټ ئـې پـه هيـواد كـي اقتصـادي وده، بشـپړ اسـتخدام او توليـزه رفـاه رامنځتـه كېـږي او همدارنگـه پايـداره اقتصـادي وده د هيوادونـو مهمـه، اقتصـادي موخـه ده؛ نـو د پانگـي د منسـجم كولـو او درسـت مديريـت كولـو لـه پـاره مـالي او پـولي بازارونـه يـوه جـدي اړتيـا ده، يـاد بازارونـه د مـازادو وجوهـو پـه تنظيـم، مديريـت او مثبـت توليـدي لـور تـه سـوق كولـو كـي اړيـن رول لوبـولای سي، د سرمايـې بـازار، چـي د مـالي بازارونـو لـه مهمـي او كليـدي برخـي څخـه شـمېرل كېـږي د اقتصـادي ودي پـه منظـور د پـولي امكاناتـو پـه برابرولـو كـي مهـم رول لـري، دا بازارونـه د پانگـوني پـه




برخـه كـي نـوي فرصتونـه رامنځتـه كـوي او د اقتصـادي ودي لـه پـاره اسـاسي زمينـه مسـاعدوي، اسـاسي او محـوري مسـئله د مـالي بازارونـو ونـډه او اقتصـادي اثـرات معلومـول دي.

لـه پورتـه مـواردو څخـه دا اسـتنباط كـولای سـو، چـي د مـالي بازارونـو رول بـه د افغانسـتان پـه اقتصـادي وده كـي ډېـر ځرگنـد وي او اړتيـا ئـې دا ده، چـي پـه افغانسـتان كـي پرېمانـه ځوانـه د كار قـوه شـتون لـري او لـه يـادي قـوې څخـه د مؤثـري اسـتفادې پـه موخـه د پانگـي لـه شـديد كمښـت سره مـخ دئ، د پانگـي همـدې كمـوالي د بشـپړ اسـتخدام او لـه يـادي كارگـري قـوې څخـه د مؤثـري اسـتفادې مخـه نيولـې ده، د پرېمانـه طبعـي سرچينـو بـا وجـود ئـې زمـوږ هيـوادوال د كار پـه موخـه مهاجرتونـو تـه اړ كـړي دي؛ بنـاً د پانگـي د همـدې شـديد كمښـت د پـوره كولـو لـه پـاره د تمويـل او پانگـي مختلفـو سرچينـو او بنسـټونو تـه اړتيـا ليـدل كېـږي، چـي مـالي بازارونـه د پانگـوني او پانگـي د انتقـال لـه پـاره مهـم ادرسـونه دي د پانگـي يـاد كمښـت نـه يـوازي د داخـلي پانگـوني؛ بلكـي د خارجـي پانگـوني پـه مـټ د رفـع كېـدو وړ دي او مـالي بازارونـه د خارجـي پانگونـو لـه پـاره بهترينـه زمينـه برابـرولای سي.

د مـالي بازارونـو پـه رامنځتـه كېـدو سره بـه پـه افغانسـتان كـي د پانگـوني د كمښـت سـتونزه تـر ډېـره بريـده حـل سي، د پايښـت لرونكـي اقتصـادي ودي لـه پـاره د اغېزنـاك بانكـي سيسـتم تـر څنـگ جـدي اړتيـا ده، چـي مـالي او د سرمايـې بازارونـه رامنځتـه سي، چـي د دې ټولـو پـه پايلـه كـي زمـوږ هيـواد د جامـع مـالي سيسـتم خاونـد كېـدلای سي؛ همدارنگـه مـالي او د پيسـو بازارونـه د نړيـوال تجـارت لـه پـاره نهايـت مهـم دي، د افغانسـتان پـه اقتصـادي وده كـي د نـورو عواملـو تـر څنـگ يـو مهـم او اغېـز لرونكـی عامـل مـالي بازارونـه دي، چـي د افغانسـتان د اقتصـاد پـه هـره برخـه كـي د پـام وړ اثـرات لـري، مـالي بازارونـه سـياليتوب (رقابـت) رامنځتـه كـوي، سـترو پانگونـو تـه؛ لكـه: پـه هوايـي كرښـو، د اوسـپني پټلۍ او د خصـوصي سـكټور پـه وده كـي هـم مهـم رول لـري؛ د دې تـر څنـگ مركـزي بانـك د پـولي سياسـت د يـوې مهمـي وسـيلې پـه حيـث Capital Notes خپـروي، چـي پـه بـازار كـي د پيسـو مجموعـي مقـدار پـه ښـه ډول كنټرولـولای سي او تـر ټولـو مهـم دا، چـي دولـت تـه د راپـور اخيسـتلو زمينـه برابـروي او دا چـاره د بوديجـې كـسر مهـارولای سي.

مـالي بازارونـه د مـالي سرچينـو د تاميـن، پانگـوني د تجـارت پـه برخـه كـي اسـانتيا، د خارجـي پانگـي جـذب، روڼتيـا، حسـاب وركـوني، سـپما، پـولي جريانونـو، قيمـت ټاكنـي، د ډيجيټـلي اقتصـاد وده او پـه نـورو گڼـو برخـو كـي د پـام وړ رول لـري، د نـړۍ ټـول هيوادونـه د پانگـوني او اقتصـادي ودي لـه پـاره مـالي بازارونـو تـه جـدي اړتيـا لـري؛ حتـی مـالي بازارونـه مهـم اقتصـادي شـيريانونه بلـل كېـږي.

يـاد بازارونـه د هيوادونـو پـه ځانگـړي ډول د افغانسـتان پـه مـالي سيسـتم، اقتصـادي وده او همدارنگـه د مـالي او پـولي جريانونـو د مؤثريـت پـه برخـه كـي رغنـده رول لوبـولای سي، مـالي بازارونـه د راكـدي پانگـي پـه جريـان كـي اچولـو لـه پاره بهترينـه زمينـه برابـرولای سي، دا چـي اوس اقتصـاد د نړيوالتـوب پـر لـور روان دئ؛ نـو پـه ډيجيټـلي اقتصـاد كـي د مـالي بارازونـو ونـډه ډېـره مهمـه ده، د همـدې اړتيـا پـر بنسـټ لازمـه ده، چـي لومـړی مـالي بازارونـه وپېژنـو، تحليـل ئـې كـړو، پر وړانـدي ئې پراتـه خنډونـه معلـوم كـړو، د افغانسـتان پـر اقتصـاد ئـې اغېـزې وڅېـړو، لـه دقيـق تحليـل وروسـته د مـالي بازارونـو لـه پـاره ذهنيـت سـازي وكـړو، پـه تـړاو ئـې جامـع طرحـي او پاليسـۍ جـوړي كـړو، چـي پـه رامنځتـه كېـدو سره بـه ئـې د افغانسـتان په اقتصـادي وده كـي فـوق العـاده مثبتـي اغېـزې محسـوسي سي.

## د هرات، نيمروز او فراه ولايتونو د گمركونو چاري و ارزول سوې

د ماليـې وزارت د گمركونـو لـوی رياسـت عمليـاتي مرسـتيال نقيـب اللـه عابـد پـه مـشرۍ يـوه تخنيكـي پـلاوي هـرات، نيمـروز او فـراه ولايتونـو تـه رسـمي سـفر وكـړ او د يـادو ولايتونـو د گمركونـو چـاري ئـې لـه نـږدې و ارزولـې.



دغـه تخنيكـي پـلاوي د ذكـر سـوو ولايتونـو د گمركونـو ورځنيـو چـارو پـه مـخ كـي پرتـي سـتونزي پـه گوتـه كـړې او د حـل لپـاره ئـې اړونـدو مسـؤلينو تـه لازم هدايـات وكـړل.

د پـلاوي د سـفر موخـه پـر خپـل وخـت سره د گمركونـو د كاركوونكـو او سـوداگرو سـتونزو تـه رسـېدنه او پـه سـمه توگـه د گمركـي اصولـو پـلي كـول دي.

د يـادوني وړ ده، چـي د گمركونـو لـوی رياسـت تخنيكـي ټيمونـو لـه دې وړانـدي هـم د ولايتـي گمركونـو د چـارو د ارزونـې پـه موخـه سـفرونه كـړي دي او د سـفرونو دا لـړۍ بـه پـه راتلونكـي كـي هم دوام ولـري.

# اعلانات داوطلبی

### د كابل ښاروالۍ لومړۍ او ۳ مي ناحيې اړوند د (۴) ملكيتونو د داوطلبۍ خبرتيا!

د ماليې وزارت د دولتي املاكو لوی رياست، غواړي چي د كابل ښاروالۍ لومړۍ او ۳ مي ناحيې اړوند (۴) دولتي ملكيتونه په جلاجلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندي كړي.

۱- د كابل ښاروالۍ ۳ مي ناحيې اړوند كوټه سنگي نظيف ماركېټ كي د ايبك په نوم يو باب A۰۱ نمبر رستورانټ چي ((۲۸۲،۰۸) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي كرايه ئې (۶۵۰۰۰) افغانۍ ده.

۲- د كابل ښاروالۍ ۳ مي ناحيې اړوند كوټه سنگي نظيف ماركېټ كي د ايبك په نوم يو باب A۰۳ نمبر رستورانټ چي ((۴۶،۲) متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي كرايه ئې (۲۳۰۰۰) افغانۍ ده.

كوردينات(جي.پي.اس نمبر) ۳٤,٥١٥٢٧٢-٦٩,١١٧٤٦

۳- د كابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ اول پوړ كي د يو باب (۵) نمبر غرفي چي ۱۱،۲ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي كرايه ئې (۱۵۰۰۰) افغانۍ ده.

٤- د كابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ اول پوړ كي د يو باب (۲۸) نمبر غرفه چي ۴،۲ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي كرايه ئې (۵۰۰۰۰) افغانۍ ده.

ټول هغه حقيقي او حكمي اشخاص، چي غواړي پورته ذكر سوي ملكيتونه په كرايه ونيسي، كولای سي چي خپل غوښتنليكونه د (جوزا/ ۱۳ / ۱۴۰۳ څخه تر جوزا / ۱۹/ ۱۴۰۳ ) نېټې پوري د دولتي املاكو لوی رياست ته وسپاري او شرطپاڼه دي ترلاسه كړي.

ادرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مركزي تړونونو د ارزوني لوی مديريت.

د لازياتو معلوماتو له پاره د دولتي املاكو لوی رياست سره په لاندي شمېرو اړيكه ټينگولای سئ: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

د آفر گشايي ټاكلې نېټه: د ۱۴۰۳ كال د جوزا / ۲۰ مه نېټه د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

### اعلان داوطلبی (۵) باب دوكان واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت ناحيه اول شاروالی كابل!

رياست عمومی املاك دولتی وزارت ماليه به تعداد(۵) باب دوكان ذيل واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت را بطور جداگانه از طريق پروسه داوطلبی به شكل آفر سربسته به اعلان می سپارد.

۱. يک باب دوكان نمبر٤٤ به مساحت ۸,۱۰ مترمربع واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت به كرايه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۸۹٦۹,۳ ) افغانی.

۲. يک باب دوكان نمبر٤٥ به مساحت ۸,۱۰ مترمربع واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت به كرايه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۸۹٦۹,۳) افغانی.

۳.يک باب دوكان نمبر٤۷ به مساحت ۸,٦٤ مترمربع واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت به كرايه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۱٤۸) افغانی.

٤. يک باب دوكان نمبر٤۸ به مساحت ۸,٦٤ مترمربع واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت به كرايه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۲۱٤۸) افغانی.

۵. يک باب دوكان نمبر٥٦ به مساحت ۹,۲۰ مترمربع واقع كوچه مندوی مربوط مدينه ماركيت به كرايه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۳۸۷٦,۸) افغانی.

كوردينات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥۱۷٤۱-٦۹,۱۷۷۲٤

اشخاص حقيقی و حكمی كه خواهان به كرايه گرفتن جايداد های فوق را داشته باشند ميتوانند در خواست های شان را بعد از تاريخ ۷/ جوزا / ۱٤۰۳ الی ۲۰/ جوزا / ۱٤۰۳ به رياست عمومی املاك دولتی تسليم نموده و شرطنامه را اخذ نمايند.

آدرس: سينما پامير تعمير١٤منزله، منزل٥، مديريت عمومی ارزيابی قرار دادهای مركزی.

شماره تماس(۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ _ ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاريخ مجلس داوطلبی ۲۱/ جوزا / ۱٤۰۳ ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر ميباشد.

### اعلان داوطلبی دو جايداد دولتی واقع شير خان كڅ ولسوالی سروبی ولايت كابل!

رياست عمومی املاك دولتی وزارت ماليه (۲) جايداد دولتی ذيل را به شكل آفر سربسته از طريق پروسه داوطلبی به كرايه ميدهد.

۱. موازی (۱۱۹۰۰) متر مربع زمين واقع ساحه شير خان كڅ ولسوالی سروبی ولايت كابل دارای كوردينات طول البلد ۹٦,٦٦٦٦۰ و عرض البلد ۳٤,٦۰۳۸٦ است كه كرايه ماهوار ابتدائی آن مبلغ (۲۳۸۰۰) افغانی ميباشد.

۲. موازی (۱٤۸۷۲) متر مربع زمين واقع ساحه شير خان كڅ ولسوالی سروبی ولايت كابل دارای كوردينات طول البلد ۹٦,٦٦٦٦۰ و عرض البلد ۳٤,٦۰۳۸٦ كه كرايه ماهوار ابتدائی آن مبلغ ( ۲۹۷٤٤) افغانی ميباشد

اشخاص حقيقی و حكمی كه خواهان به كرايه گرفتن جايدادهای فوق را باشند ميتوانند در خواست های شان را بعد از تاريخ ۵ جوزا ۱٤۰۳ الی ۱۸ /جوزا / ۱٤۰۳ به رياست عمومی املاك دولتی واقع تعمير ١٤منزله سينما پامير تسليم نمايد.

تاريخ مجلس داوطلبی ۱۹/ ۳ / ۱٤۰۳

داوطلب به تاريخ مذكور مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده پول بدون باز گشت حق الاشتراك را پرداخت نمايند.

شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




# ازبکستان او د افغان – ټرانس سوداګرۍ نوي واقعیتونه

د ډیپلوماټ – THE DEPLOMAT په نوم جاپانۍ رسنۍ د افغانستان او ازبکستان د اورګاډي له لاري د سوداګرۍ په تړاو یوه اقتصادي مقاله خپره کړې ده، چي په ټولیز ډول پر دې باندي بحث کوي، چي د یاد دواړو هیوادونو تر منځ سوداګري کومه بڼه خپله کړي.

د مقالې په پیلیزه کي لیکل سوي دي، چي په نړیوال لوجیستیکي/ لوژیستیکي سیستم کي د پام وړ بدلونونه اوس په دې ډول دي، چي د افغان ـ ټرانس د مسیرونو موضوع ګرمه وساتي؛ خو متن دا هم وايي، چي ازبکستان شاید له سیالۍ سره مخ سي.

د (۲۰۲٤)ز د پیل راهیسي ازبکستان له قطر او متحده عربي اماراتو سره د ترمِز- مزار شریف -کابل - پېښور د اورګاډي پټلۍ د جوړولو په اړه، چي د افغانستان له لاري به ازبکستان له پاکستان سره ونښلوي، د اوو میلیاردو ډالرو په ارزښت پر دې لویي پروژې باندي خبري اتري کړي دي؛ نو د مقالې د متن په استناد به دا مسیر په (۲۰۳۰)ز کي پیل سي.

دغه پروژه د منځنۍ اسیا د دولتونو او افغانستان له پاره سمندر ته د لاسرسي او همدارنګه د هغوی د ټرانزیټي امکاناتو او جیوپولیټیک رول د پیاوړتیا په برخه کي خورا مهمه ده. د دې پروژې د پانګوني له پاره مقاله لیکي، چي تاشکند د همکارۍ په خاطر پر خلیجي هیوادونو ږغ کړی دئ، چي دې پروژې ته اوږه ورکړي.

دې پروژې ته د مقالې د متن په استناد قزاقستان، روسیه او سپینه روسیه/ بیلاروس هم لېوالتیا لري.

د پروژې په تړاو د ایران او ترکمنستان د سیالۍ د بدلون په هکله داسي ټکي کاږي: «د افغانستان ترمنځ د اړیکو په پراختیا کي دازبکستان رول لا هم مهم دئ؛ خو د ټرانسپورټي او ټرانزیټي مسئلو په اړه له اسلامي امارت سره د دوی د فعال تعامل په پام کي نیولو سره وضعیت ممکن له ایران او ترکمنستان سره د سیالۍ د زیاتوالي له امله بدل سي.»

مقاله «جنوبي سمندرونو ته» تر فرعي سرلیک لاندي وايي، چي د (۲۰۱۱)ز راهیسي د حیرتان -مزارشریف اورګاډي کرښه په کار مصروفه ده، چي ازبکستان ته د افغان او یا هم افغان طرف ته د مالونو د لېږد په برخه کي یو استثنايي مقام جوړ کړي.



د افغان – اوزبک ټرانزیټي دهلېز په اړه کاږي، چي دا دهلېز د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ تقریباً ټول حجم ته خدمت کوي، چي لوړ ټرانزیټي عواید تولیدوي. دا د تاشکند د نوي ټرانسپورټ په پروژو کي د ازبکستان هیلي ته پَیک/ پکه وهي.

د نړیوال ټرانسپورټ دهلېز (ITC) په نوم د سپیني روسیې ـ روسیې - قزاقستان ـ ازبکستان ـ افغانستان ـ پاکستان دهلېز جوړولو او تطبیق په اړه په (۲۰۲۳)ز کي هوکړه وسوه، چي د پټلۍ اوږدوالی ئې (۵،۵۳۲) کېلومیتره دئ، د بار وړلو په اساس (۲۰) ورځي وخت نیسي او د سمندري ټرانزیټ دري برابره چټک مسیر دئ. مقاله وايي، چي ازبکستان- افغان ټرانزیټي لاري څخه ګټه اخیستل به د شمالي قدرتونو ګټو ته د ودي ور کولو مفهوم ورکړي.

د دې مسیر د ارزښت په اړه مقاله داسي توري رانغاړي: «د افغان ـ ټرانس دهلېز به نه یوازي دا موجوده ترکیب بشپړ کړي،؛ بلکي د تور سمندرګي، مدیترانې سمندرګي او سور سمندرګي له لاري به د اوبو له لاري د ښه بدیل په توګه کار وکړي.»

تاشکند همدارنګه په پام کي لري، چي د چین – قرغیزستان –ازبکستان د اورګاډي دهلېز تر پیلېدو او جوړېدو وروسته به دا لاره تر افغانستان پوري و غځوي. په دې مسیر سره به پېښور ته د افغان ټرانسپورټ له لاري د محمولو له لېږد سره مرسته وسي.

مقاله فرضي پوښتنه مطرح کوي او وايي دا چي چین ته ئې څه ګټه ده؟ جواب ئې داسي لیکل سوی دئ: «په دې برخه کي د چین له پاره د منځنۍ اسیا ټرانزیټي رول دونه اړین نه دئ؛ خو بېجینګ ئې هم له پامه نه غورځوي.»

د افغانستان –ایران تر منځ د «خواف –هرات» پټلۍ خوا ته هم اشاره سوې ده، چي وايي دا به واخان ته وغځېږي او دا داسي اتصالي نقطه ده، چي په دې ځای کي د چین، پاکستان، افغانستان او تاجکستان پولي سره یو ځای کېږي.

مقاله د «د لېږد یا ټرانزیټ له پاره سیالي» تر سرلیک لاندي دازبکستان سیالۍ او اندول ته توجه کړې ده، چي وايي د دغه راتلونکي افغان ـ ټرانس رېل پټلۍ اوږدوالی به (٦٤٧) کېلو میتره وي. له دې لاري له پاکستان څخه ازبکستان ته د مالونو لېږد به د اوسنیو (۳۵) ورځو پر ځای یوازي (۳-۵) ورځي په بر کي ونیسي.

د مقالې د معلوماتو په اساس تر (۲۰۳۰)ز پوري د دې نوي رېل پټلۍ له لاري احتمالي محموله به په کال کي شاوخوا (۲۲) میلیونه ټنه وي.

مقاله وايي، چي له ترمِز څخه بیا تر پېښوره پوري د اورګاډي پروژې په جوړولو کي د خلیجي هیوادونو له خوا د پانګوني احتمال موږ ته روښانه سوی دئ، یعني په (۲۰۲۰)ز کي د اې ډي پورټس ګروپ (AD Ports Group) په نوم د عربي اماراتو شرکت او د سنوت انېرژیتیکا ګوروهي Sanoat Energetika Guruhi/ Saneg)) په نوم اوزبک شرکت د اې ډي اېل اولانیش (ADL-Ulanish) تر عنوان لاندي ګډ شرکت جوړ کړ. اوزبک او عرب به سره متحده سي، چي وروسته به د اورګاډي پټلۍ د عملیاتو اداره کولو حق تر لاسه کړي.

مقاله د اسلامي امارت د تلاښونو په اړه داسي پراګراف لیکي: «اسلامي امارت نه یوازي د افغان - ټرانس لویي لاري ملاتړ کوي؛ بلکي د خواف - هرات رېل پټلۍ د جوړولو ملاتړ هم کوي، چي د عمان خلیج په څنډو کي د ایران چابهار بندر ته لاسرسی لري او همدارنګه د لاجورد دهلېز یا لاري د فعالولو اراده هم لري، چي د ترکیې، اذربایجان، ترکمنستان او افغانستان تر منځ وجود لري.»

د لاجورد لاري د پیل برخه باید د اورګاډي پټلۍ وي، چي له تورغونډۍ څخه د افغان - ترکمن له پولي څخه هرات ښار ته ځي او تړون ئې له ترکمنستان سره سوی دئ. له هرات څخه به دا لاره عشق اباد ته ځي، بیا د ترکمنستان کسپین بندر ته او له هغه ځایه د باکو بندر ته رسېږي، بیا د ګرجستان له لاري انقرې او استانبول ته روانېږي.

مقاله لیکي، چي افغانستان په داسي موقف کي ټېک دئ یا په اصطلاح قرار لري، چي د سوداګرۍ جریان متنوع کوي.

په دې اقتصادي متن کي د هرات ـ کندهار د اورګاډي پروژې وراندیز ته هم اشاره سوې ده، چي وايي اسلام امارت په (۲۰۲۳)ز کي وړاندیز کړی وو او په دې رېل پټلۍ سره د هند په سمندر کي د روسیې او پاکستان د بندرونو ترمنځ د نښلون زمینه مساعدېږي.

مقاله د پایلي په برخه کي کاږي، چي وايي په نړیوال لوژیستیکي سیستم کي د پام وړ بدلونونه د «افغان – ټرانس» په اړیکو کي د ودي مفهوم افاده کوي، په داسي حال کي، چي ازبکستان د یو مهم ټرانزیټي هیواد او د افغانستان د باور وړ شریک په توګه خپل حیثیت خوندي ساتلی دئ.




## IEA Waives Tradespersons From 'Fixed Tax' Whose Annual Sales Reach up to 2 million Afs

'The Meeting Announcing the Exemption & Discounting of Fixed Tax on the Tradespersons (shopkeepers and traders)' was held at GMIC with the participation of Deputy Minister of PM for Administrative Affairs, Maulawi Abdul Salam Hanafi, the Minister of Finance Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund and a number of senior officials.






Based on the special order of the supreme leader of IEA, H H Amir Al-Momineen (may Allah protect him), tradespersons and businessmen are waived completely from 'Fixed Tax' whose annual sales are up to two million Afs; However, above this, a 'Fixed Tax' of 0.3% is charged from the sales.

The Union of Tradespersons had had the privilege of waiving of the annual sales up to 150,000 Afs before the decision was taken, which a tax of 0.5% was levied on the above sales.

## Staff of Torkham Customs Halts Arms Trafficking

Staff of Transit Descriptions Management of Torkham Customs has detected and seized 16 pistols, 32 magazines and 315 bullets in an imported commercial shipment, which were embedded skillfully in the seat of cargo. An accused person has also been arrested in this regard with the said ammunition being smuggled from the neighboring country Pakistan to Afghanistan and



has been handed over to the relevant bodies for further investigations.

Notably, the vigilant employees of customs of MoF work nychthemeron and strictly prevent the import and export of such contrabands and prohibited goods.



### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چي د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.

ټیلیفون او واټساپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ /۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af